# د غوایانو (۸-۷ ثور) پاڅونونه او نیمه پېړۍ رواني ویرانۍ

## د افغانستان د جنگونو او انقلابونو تبعات او عبرتونه

**محمدآصف ننگ**

له پکتیکا څخه

شخصاً د افغانستان په تاریخ کې کوم انقلاب، د انقلاب په معنا، او د خودجوشه انقلابي بدلونو ثمره نه وینم، بلکې غالباً راغلي بدلونونه هومره زمونږ د ملت د ارادو او آرمانونو نه بلکې زیاتره د لویو قدرتونو د شطرنج نتیجه ده. معمولاً هغه څه چې وینو هغه څه چې راغلي او هغه څه چې راروان دي که کاملاً نه وي نو تر ډیره حده د پردیو مداخلو، د یرغلگر ځواکونو مقدماتي او تطبیقي پلانونه، وسله والې مداخلې او په نتیجه کې یې داخلي جگړې، نیابتي جنگونه، وسلوالې مبارزې او کودتاگانې دي...!! د نیمې پېړۍ د ناآرامیو نچوړ همدومره دی.

د کمونیستي ډلو له لورې د ثور د ۷مې کودتا (۱۳۵۷) او د مجاهدینو له لورې د ثور پر ۸ مه (۱۳۷۱ش) د کابل سقوط، یو یې هم انقلابي جریان نه و، دواړه وسله والې پدیدې وې، اول یې هدف ته د رسیدو لپاره د ولس ملاتړ نه درلود او دویم یې هدف ته تر رسیدو وروسته د ولس ملاتړ له لاسه ورکړ...!

انقلاب یو سپېڅلی مفهوم او د ډېرو آگاه، هدفمند او آرماني ملتونو کار وي او غالباً د یوه ناسازه حالت په وړاندې د بهبود، عدلت او سازندگۍ په هدف په لاره اچول شوی د ارزښتونو پیکار وی... اما فقیر ملتونه په یوه کاملاً معکوس فورمول کې د انقلاب تر شعار لاندې د بدو او تاواني بدلونونو، مغلوبه جگړو، نیابتي جگړو او د لویو قدرتونو په لوبو کې قرباني کیږي په ضمن کې د همدې فقیرو او نادانو ټولنو روشنفکران یې د اجیر او مرتجع په نقش کې د جگړو له بازار خپل کاروبار په فرصت طلبه نقشونو کې چلوي!! ځکه خو د روشنفکرانو له اړخ د سولې او استقرار هڅه محض د دوی د منافعو او قدرت نیوني تر حده وي، نو فقیر او ضعیف وطنونه د دوامداره جگړو په میدان پاته کیږي، ځکه خو پدغسې ټولنو کې د سولې او نجات امید لویو ځواکونو (نړیوالو) او یا د ملگرو ملتونو ناچله سازمان ته پاته کیږي، نو په دغسې ټولنو کې به سوله او ثبات څوک او څنگه راولي؟؟

### د کلتوري او اخلاقي زوال پیل




پدې مقاله کې مو د تیرو وسله والو بدلونونو او جگړو پر تدمیري تباهیو، تخریباتو، وژنو او مادي ویجاړیو تمکین ندی کړی یواځې مو پر دوو دریو رواني او کلتوري اغیزو بحث کړی.

د شوروي تر یرغل وروسته د جهاد او هجرت د دوران کیسه که څه هم تیره شوې او تر تاریخ تېره حادثه ده، مگر له دې تاریخ سره زمونږ د تاریخ ډېر تاریخي روایتونه او د افغاني کلتور ډیر زرین ارزښتونه مات او یا له ویاړمن تاریخ څخه مو هغه عالي کرکترونه او اخلاقي مکارم سوکه سوکه خارج شول چې جبران یې په جدي توگه پکار دی...!

په هجرت کې د امریکایي او عربي خیراتونو او د افغان کمیشنرۍ تر چتر لاندې زمونږ د مبارزاتو مسیر د لویو سیالانو پر محور بسیج شو او د هجرت تقدس، دملي وقار پټکی او د پرده دارو پېروني مو د خیرات او راشن په لین ودرول او همداسې راولویدل...!! د هجرت له چاپیریال سره سوکه سوکه عادي شوو، د خیرات او مدد

اخیستنه د شرم پر ځای د یوه مسلم حق په عنوان او د ترلاسه کیدو لپاره یی ټېر پاره کول د غیرت په سمبول بدل شو... د خیرات پدیده په امریکایی عصر کې مجدداً په (حق او عزت) او حصول یې په استحقاق تبدیله شوه، د همت او شهامت متې یې راسستې کړې، د ابتکار او تخلیق قوت یې په ضعف باندې بدل کړ، د کار او زحمت پدیده یې په مفتخواری او د بل په چوپړ د بخششونو په کمایی تبدیله کړه...! تر جهاد وروسته د جګړو کرغیړن تداوم د سیمه ییزه غدیو پر وابستګیو او قماري پروژو تبدیل شو..!

**د جغرافیا او نژاد تزلزل!**









په تېره نیمه پیړۍ کې د وطندوستي او وطن پالنې پدیده په سوسیالیستي او اسلامي ناسیونالیزمونو کې دومره تته شوه چې د خاوري تمامیت ته ګواښ پېښ شو، زمونږ سیال ګاونډیانو ته د دغو دوو ناسیونالیزمونو ترویج او تقدس ډېر ګټور تمام شو، چا د پنځمې صوبې په سترګه ورته زړه ښه کړ، چا د لوی فارس د حدوداتو د تکمیل په حیث یې ددې خاوري د مالکیت احساس کاوه او شوروي اتحاد خو د خپلو ثوري ملګرو په کامیابۍ سره دا وطن د خپل سره تمامیت برخه وبلله... که له یوې خوا د جغرافیایی تمامیت لپاره افغاني نشنلیزم او وطندوستۍ یوه ژوره ضربه ولیدله نو بلخوا د قومونو د تفرقې استعماري پروژه تر ټولو کامیابه وچلده، آن تر مسلح مبارزاتو یې اغیز ژور وو، دلته هرچا د خپل متعلق کور شعور ایجاد کړ، د لوی فارس نژاد، د لوی ترکمن نژاد، د لوی تاجک نژاد، د لوی پشتون نژاد، د لوی مغل او...همداسې ورپسې د تجزیې او فدرالونو د ایجاد شعور د دې انقلابونو او جنګونو میراث دی... د ملي وحدت او قومي مشارکتونو تر عنوان د تیرو دوو لسیزو حکومتداري یې بدترین میراث دی، نن چې د افغان او افغانیت له نوم او د افغانستان له نوم د بېزارۍ هواخواهان ګورم، زمونږ د روڼ آندو د ټیټې مفکورې کچې ته خفګان راځي...ددې بېزارۍ جدي علاج او ددې فکري خلا مثبته، عادلانه او رغنده ډکونه پکار ده!

**اما د پورته دوو پدیدو (جګړو او انقلابونو) تبعات یا پیآمدونه یې:**

**#لومړی_پیآمد:**

**امریکایی دوه لسیزې**

د شوروي اتحاد پر یرغل، کودتاګانو او د جهاد پر دوران هغه پورته د مقدمې بحث کافي بولم، خو په تیر شل کلن دوران کې، د خارجي حضور په لسیزو کې، د دویمي نړیوالې جګړې د فرعي حوادثو په څېر افغانستان تکراراً د یوې نړیوالي لوبې (د ۹/۱۱ د یوې لویی حادثې) د فرعي داستان په څېر پاتې شو، نه د اصلي داستان...عیناً لکه د کارګو کولت Cargo cult سرګذشت ( لنډیون یی لاندې وګورئ .(*)

(*) د آرام اقیانوس د ملانزیا په یوې ځنګلیزه جزیرې کې د جاپان او امریکا سرتیرو د جګړې د اکمالاتو په موخه یوه موقته هوایی اډه جوړه کړه، بومي تورپوستو خلکو ورته د سپینو پرېښتو په ستره کتل ځکه چې دوی یې په مجاني خیراتونو، بخششونو، مشروباتو او په مفته کالیو عادت کړل... دویم نړیوال جنګ ختم شو، دا هوایی اډه تخلیه او شنډه شوه... بومي خلکو عقیده درلوده چې دا د خدای نعمتونه وو، خدایان له دوی خفه شول او پر دوی یې نعمتونه قطعه کړل، د سپین پوستو پرستش یې شروع کړ... مګر د ورېځې نس لپاره یې د همت او زحمت په ځای تر آخره د جهالت یو ځانګړی مذهب جوړ کړ کارګو کولت...مګر بیا هیڅکله دوی چا په غلامۍ هم ونه نیول او تر نن پورې همداسې د سپین پوستو جهازونو ته په امید وخت تیروي!...

خارجي حضور پریمانه مجاني ډالرې هېواد ته « په غیر اقتصادي شکل» پمپ کړې، خلک یې بد آموزه کړل، له مودې او نوبت مخکې یې ډېر میلیونران کړل، ډېر خامان یې د پخو مناسبو خاوندان کړل... دا او بله بده پدیده یې دا وه چې د عزت او وقار ځای مفتخواری، د همت او شهامت ځای درباري درآمد او د مشرانو مقام مدني قشر ونیو...اثرات یې نن هم دوام لري....

بر علاوه لدې خیراتي تذلیل سره د فکري اسارت حس غښتلی شو، پر پردیو اتکا، د هر ډول بدلون نقش نړیوالو (امریکا) ته حواله کول دا یې تر ټولو خطرناکه او د شعوري وابستګۍ تر ټولو لوی اغېز دی..!

**#دویم_پیآمد**

د فقر او غربت د معالجې څرک لا نه لګي... دا چې هېواد مو تر ټولو نه زیات د فقیرو هیوادو په ردیف کې یادیږي، د وطن پر تندي تر دې بل بې عزته لقب نشته، هره ورځ چې فریاد کوو... مونږ ډېر غریب یو، مونږ له قحطی سره مخ یو، مونږ ته ډېر خیرات لازم دی، پر مونږ رحم وکړئ او... دا د ملت د ذلت تر ټولو ستر آدرس دی...د فقر او مسکنت روایت به خامخا حقیقي وی... مګر هغه عوامل چې مونږ لدې ځایګي وباسي! آیا واقعاً پرې کار کوو؟! پدې خاطر چې بیا بیا د ناکامه او نامراده انقلابونو کوربانه نشو، حتمن باید پاخه بناوی ایجاد کړو...

**#دریم پیآمد**



د جګړو یوه بله پایله بې سوادي او له علم او تکنولوژۍ بې برخوالې ده، جهالت د جګړو مور ده، د جهالت په سبب راباندې لویی لوبې رواني دي او مونږ یی پېړۍ پېړۍ په هلاکت کې ساتلې یو، نو د جهالت علاج علم دی...د احتیاج علاج ایجاد او زحمت دی، پخپل لاس کار، پخپل همت فعالیت او له پردي خیرات استغنا ده...ناپوهي د پسماندګۍ او احتیاج اساس دی، په احتیاج کې ولسونه ګدایګر او خیراتخور شي، د خیراتخور ملت هویت باید فوراً بدل او د نړیوالو مجاني مرستو دکانونه باید بند یا یې پر اقتصادي برنامو تعویض کړو...که دیته تدبیر ونشي او همداسې د نړیوال بانک، او نړیوال غذایی سازمان سپکو ذلیلو ادبیاتو، ذلتباره راپورونو او ذلیلو مرستو ته ځنګ ووهو او بیا بیا په خیراتي لین له دریدو ننګ ونکړو را روان نسل به مو په کومو اخلاقي ستندردونو مزین وی؟؟ د سړکونو پر سر د تنکیو ماشومانو او اسپندیانو سترګو ته ځیر شئ، د هغو تنکیو جلکیو سپیرو لاسونو ته چې هر موټر ته له یوې بستې قلمونو سره خیر غواړي دقت وکړئ...!! آیا د وطن وګړي مو ښادمن او بسیا ښکاري؟

**د پسا انقلاب دوران!!**

آیا پسا انقلاب رارسیدلی دی، که نور نور راروان دي؟

یوه مقوله ده، وایی چې که د آشوب او شورش ډله کاملاً شکست ونه خوري او له جگړو لاس وانخلي نو مقابل لوري یې جگړه نده گټلې، معکوس مفهوم یې دا ده چې که د آشوب او شورش ضد طرف(چې دولتونه دي) جگړه ونه گټي نو پر غلیم او گواښونو ندي بریالې شوي.

د افغانستان د جگړو یو واقعیت دا دی چې د جگړو او تضاد اطراف تر بدلون وروسته هم حضور لري، البته چې د سرکوب له لارې قطعاً هغسې تصفیه امکان نلري چې د یوه اړخ وجودي حضور کاملاً منتهي شي، د بغاوت پدیده په مشارکت، ادغام او انضمام Annexation باید منتهي کړی شي یعني د ملي پخلاینې او ملي مشارکت د پروگرام له لارې، نه د نابودولو او هلاکت له لارې...

یواځې د امریکا تر وتلو وروسته په میلیوني کچه ناراض، مخالف یا ویریدلي افغانان له وطن وتلي دي، ورسره زمونږ په شاوخوا کې او هم په نړیواله کچه زمونږ د جغرافیا لپاره د جگړو خریداران شته، د دوی د اور بلولو لپاره اسباب او کسان شته، دلته په وطن کې د قناعتونو جگړه پای ته نده رسیدلې، یواځې د جگړې میدان ندی چې په تصرف سره یې لوبه ختمه شي... تر څو چې د ټول ملت په اراده او آزاد تصمیم د مشروع اقتدار او بیا دملي حاکمیت لپاره د قانون دولت ایجاد نشي او د قوانینو په تطبیق او رعایت سره اقتدار نه وی تمثیل شوی دلته به خفگان، اعتراض او شکوه وجود ولري او همدا درې پدیدې که دوامداره او مزمنې شي په ملي قهر تبدیلیدلی شي، ملي قهر د بغاوت او شورش مبنا ده چې مخه یې په سرکوب نشي نیول کیدای، فقر او غربت هم هغه عوامل دي چې د مخفي قهر په توگه تراکم کوي او بیا برجسته ستیج ته صعود کوي...مگر دا په قدرت کې د موجوده مسوولینو وظیفه ده چې د ملي ثبات او مشروع اقتدار لپاره څنگه او څه وخت لاس پکار کیږي...!

**نتیجه:**

#د نیمې پیړۍ جگړو افغانستان ته بریاوی نه، بلکې مزمن منفي تبعات یې درلودلې دي دا څو پورته یې تبعات ندي سل نور نور دي...،

#دجنگ ثمره هومره زلمو ته خوندوره نه وی څومره چې کونډو، یتیمانو، قربانیانو او خانه خرابانو ته ترخه وي!!

#جنگ قطعاً تکمیلات نه بلکې نقصانات او احتیاج له ځان سره لري؛ مگر آیا د سړیو، د پگړیو نقصانات یی کم دي؟! مگر د وطن د ړنگو گودرنو او د تالا سویو سرو غمیو تاوان یی آسانه جبرانیږي؟!

#دجنگونو لپاره خریداران، د تضاد او انتقام انگیزه او د جگړو اسباب لیږ یا ډیر وجود لري... ممکن نړۍ په لویو لوبو (عربي خلیج، اوکراین او..) کې د بوختیا په سبب افغانستان له خپلو لومړیتوبونو ایستلې وي، چې دا فرصت باید غنیمت وگڼل شي او د ملي ثبات برنامې په جدي توگه تر کار لاندي ونیول شي، کنې د نړۍ د تصفې او د لویو ځواکونو د کشمکش تر ټولو احتمالي سیمه منځنۍ آسیا ښودل کیږي..

#مگر په یاد باید ولرو چې زمونږ جغرافیا د ډیرو لویو (سیمه ییزه تصفیو) او (نړیوالو نیابتي سیالیو) لپاره مساعده ده، که اساسي بدلونونه او د مشروع اقتدار عناصر تکمیل او په اقتصادي لحاظ په سیمه ییز اتصال منتج نشي د ندامت لپاره به بیا فرصت پاتې نشي، ځکه خو تاکید کوم چې د انقلابونو او جنگونو تاریخ ته مراجعه او د تیر شویو حوادثو مجدداً موشیگافانه قرائت پکار دی، بخصوص د هغو لپاره چې د واک په دوران کې خپل قدرت په اقتدار تبدیلو ته عزم نلري او خپل سراسري امنیت په دایمي ثبات د تبدیلولو لپاره تر کار او اقدام یې اطمینان زیات ښکاري...!

#نیمه پیړۍ تر نن پوري ځکه هیڅ یوه انقلابي جریان (کودتایی، وسله وال مقاومتونو او نظامي غلبو) دلخواه نتیجه نده ترلاسه کړې ځکه چې د واک په دوران کې یې جوړ شوې نظامونه د ملت له اصلي پشتوانې بې برخې او په یو ډول توتالیریستي، تک حزبي او په تمامیت خواه ډول یې د واک تقسیم د خپلو وفادارانو ترمینځ شروع کړی، د بهبود په امید یې هماغسې دوام ورکړی چې په همدې سبب د زوال کندې ته غورځیدلي، د

جمهوریت په دوران کې د سولې او پخلاینې لپاره هغه فرصتونه فوت شول چې که واقعاً په لومړیو کلونو کې تعقیب شوې وای د ډېرو بدبختیو مخه به نیول شوې وه...آنکه نیآموخت از روزگار، هیچ نیآموخت ز هیچ آموزگار...!

زه شخصاً د نیمې پېړۍ د شکست خوړلو انقلابونو (!) او حکومتونو قرباني او هم یې چشم دید گواه (شاهدٌ علی العصر) یم، د ملتونو حقیقي ملاتړ که نه وي د نړۍ هیڅ قدرت دلته د نظامونو د بقا تضمین نشي کولی، دا یو مناسبتي تذکر دی، د دوو انقلابي غوایانو (۷-۸ دثور) د شکست او د بل د فتحي د دعواه دارانو په مجادلې کې د حیران او سرگردان ولس قضاوت به څه وي؟ طبعاً چې د تاریخ قضاوت او نیمه پېړۍ پس د دوی انجام پخپله واضح ځواب دی!!

دلته د داسې مناسبتي تذکر په هکله لیکم چې واقعاً په پای کې او بالاخره د عروج او زوال له سرگذشت وروسته یې په هکله حکم نشم کولی؟! د کوم حکومتي او انقلابي دور تحسین او امتنان وکړم، چاته د هغوی د بریا مبارکي ورکړم، د چا د شکست مذمت او ملامت وکړم؟ د کوم فوت شوي دوران آرمان وکړم؟ چاته ووایم چې لدې درسونو عبرتونه واخلئ...لاهم پر چا د مثبت قضاوت گنجایش نه وینم، ځکه چې رغنده او د پایدارۍ لپاره اساسي مزل او قوي تکل نه ترسترگو کیږي...!!

#کنترول شوې انارشي هیڅکه د دولت جوړوني او د قانون د حاکمیت آدرس نشي کیدای مگر دا چې واقعاً د دولت جوړوني او د قانون د حاکمیت چتر نه وی ایجاد شوی...! اساسي قانون او فرعي قوانین لازم دي، د قانون دولت لازم دی، د ژوند چارې بې دستور او اصولو پرمخ نه ځي، د شریعیت معاملات هم نظم او انضباط ته اړتیا لري، د وگړو وجایب، حقوق او الزامیتونه عیناً د دولت د الزامیتونو او وجایبو په شان لازمي دي... د هر شي حد او حدود او د هر چا مسوولیتونه او صلاحتونه باید په مدني قوانینو او شرعي احکامو سره تشریح او تدوین شي، که د قوانینو خلا ډکه نشي د نظام چارې به له جدی گواښونو سره مخامخ شي.

*په مقدمې کې مې سوال وکړ، چې په جگړه ځپلو، د کم صلاحیت لرونکو، ضعیفه او فقیر، په نورو د متکي او په مزمنو بحرانونو کې د راگیر هېوادونو د ملت جوړوني او دولت جوړوني (یعني د دایمې سولې او ملي ثبات) نقش به څوک او څنگه ادا کوي؟ جواب خو یې همدا اوږد تحلیل دی، مگر لنډه دا چې: پخپله د ملتونو لخوا، د دوی په اراده او قربانیو، د ملي دولتونو په واسطه او د دې وطن په سرشاره منابعو باندې...هغه منابع چې زمونږ وطن نه بلکې د ټولې جغرافیا د عمران لپاره ځوابده دي...ولس باید د فعالې ونډې لپاره د حکومتونو لخوا آماده او وکارول شي، د پېړیو سربندې غني منابع د غنامندی، پرځان اتکا او ثبات لپاره وکارول شي..*

اکیداً یې پدې ختموم چې فرصت د خدای نعمت او قدرت د خدای د ابتلاً مشغله ده، د بریا لپاره زمونږ په ۲۰۰ کلن تاریخ کې تر نن زیات گنجایش هیچ نظام ته په لاس ندی ورغلی، ددې سمبالنه او پالنه پکار ده!!